# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## اسلام د بې ګناه خلکو وژل منعه کوي



**(ژباړه)**

موږ هغه دردوونکې پېښې چې په السلط کې رامنځته شوې په ډېر غم سره تېرې کړې؛ کبر، موقف غوښتل او د سرتېرو او ملکي خلکو وژل هغه څه دي چې الله سبحانه وتعالی ترې موږ په دغه ایت سره منعه کړي یو:

**﴿مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنَّهُ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا﴾**

[مائده: ۳۲]

***ژباړه:*** *په همدې اساس مو بنی اسرائیلو ته وویل: هر هغه څوک چې د ځمکې پر سر یو انسان پرته له دې چې په قتل او فساد کې ښکېل وي ووژني، داسې دی لکه ټول انسانان یې چې وژلي وي او هر هغه څوک چې یو انسان له مرګ څخه وژغوري، داسې دی لکه ټول خلک یې چې ژوندي کړي وي.*

همداراز د دغو پېښېو په څارلو سره غواړو څو ټکو ته اشاره وکړو:

**اول:** اسلام له حق پرته د نفس وژل منعه کړي دي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَلا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلا بِالْحَقِّ﴾**

[اسراء: ۳۳]

***ژباړه:*** *او هغه څوک چې الله سبحانه وتعالی یې وینه حرامه کړې له حق پرته مه وژنئ!*

همدارنګه هغه سبحانه وتعالی د یو او بل پر وژلو مسلمانانو ته خبرداری ورکړی. رسول الله صلی الله علیه وسلم په حجة الوداع کې فرمایلي:

**«وَيْلَكُمْ لا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ»**

***ژباړه:*** *افسوس پر تاسو! له ما وروسته کافر نشئ، چې ځینې مو د ځینو نورو غاړې ووهي.*

په حقیقت کې موږ د مسلمانانو ـ سرتیرو او ملکي خلکو ـ د وینې د هر څاڅکي لپاره اندېښمن یو، ځکه چې رسول الله علیه وسلم فرمایي:

**«مَنْ أَشَارَ إِلَى أَخِيهِ بِحَدِيدَةٍ فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَلْعَنُهُ حَتَّى يَدَعَهُ وَإِنْ كَانَ أَخَاهُ لِأَبِيهِ وَأُمِّه»**

***ژباړه:*** *څوک چې د خپل مسلمان ورور په لوري وسله ونیسي، ملایکې تر هغه وخته پرې لعنت وایي څو یې چې لرې کړې نه وي، که هغه یې حقیقي (له پلار او مور څخه) ورور هم وي.*

**دویم:** موږ د الکرک په تېرو پېښو کې رژیم ته خبرداری ورکړ او ومو ویل: په الکرک کې د سرتېرو او ملکي خلکو وژنه د اردن د رژیم د سیاستونو پایله ده؛ همداراز د دعوت لېږدوونکي او مستنیر مفکرین ګواښي او بندي کوي، له هغوی سره په جوماتونو کې جګړه کوي او سیمه پرې تنګوي، په ټول توان سره هغوی ځوروي او حتا محصلین په ځنځیرونو تړي او ګواښي یې چې نور یې غږ وا نه ورېدل شي او افکار یې خپاره نشي.

دوی هغه خلک دي چې فوځ د امت لپاره یوه هیله بولي چې کولی شي واقعیت یې بدل کړي. همدوی دي چې د اسلام له نصرت، بریالیتوب او دبدبې څخه ساتنه کوي. په حقیقت کې د فوځیانو او زړورو سرتېرو وینې په الکرک او زموږ په نورو ښارونو کې باید تویې نشي؛ بلکې د اصلي خلکو په ډګرونو او د الاقصی او د بیت المقدس د دروازو د ازادولو لپاره باید د جهاد په لاره کې تویې شي.

رژیم د دوی پر وړاندې بې پروایي وکړه او خپل ناوړه سیاست ته یې دوام ورکړ. د ازادۍ لېږدوونکو او دعوتګرو نیول او زنداني کول او حتا په ویبسایټونو کې د هر غږ تعقیبول، چې فساد دی. د دوی وروستۍ ځورونه د حزب

التحریر-ولایه اردن مطبوعاتي دفتر د فسبوک پاڼې بندول وو. ایا رژیم دغه د دعوت د لېږدوونکو او مستنیرو مفکرینو نیول، په جوماتونو کې له دوی سره مبارزه کول، پرې د بېلابېلو فشارونو راوستل زده کوي او د دوی تعقیبول او د محصلینو ځورول او شکنجه د هغه څه لپاره یو ښه مخنیوی ګڼي چې دوی یې لېږدوي؟ دوی د بدلون د راوستلو لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لارې پیروي کوي. دوی وسله نه لېږدوي او بې ګناه کسان په مرګ سره نه ګواښي؛ خو نور د دوی غږ نه اورېدل کېږي او افکار یې نه خپرېږي.

**درېیم:** اشغال له ځینو ناوړو غږونو څخه یوازې د یوې ښکاره سلسلې څارل دي، چې د امریکا لخوا رامنځته شو او هڅه کوي چې اسلام او د هغه مفاهیم د السلط له پېښې سره وتړي، چې له دغو پېښو څخه د اسلام، عقیدې او د هغه د قوانینو پر وړاندې په جګړه کې د دې لپاره ګټه واخلي څو اسلام په تروریزم، بنسټ پالنې او افراطیت پورې وتړي. دغه اوازونه یې له ویوونکو سره ډېر کمزوري دي او د الله سبحانه وتعالی په مرسته نشي کولی چې د اسلام حقیقت، د عدالت او رحمت دین له منځه یوسي، هغه دین چې الله سبحانه وتعالی د ټول بشریت لپاره ثابت کړی دی او خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم یې په رحمت سره ستایلی دی. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ﴾**

[انبیاء: ۱۰۷]

***ژباړه:*** *او اې محمد صلی الله علیه وسلم! ما د نړیوالو لپاره ته له رحمت پرته نه یې لېږلی.*

ټول هغه څه چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم راوړي، د بشریت لپاره رحمت دي او د اسلام له احکامو او هغو دستورونو څخه پیروي یو ربښتینی رحمت دی چې الله سبحانه وتعالی یې پلي کول له موږ څخه غوښتي.
موږ د الله سبحانه وتعالی دغه خبره دوی ته وایو:

**﴿يُرِيدُونَ لِيُطْفِؤُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ * هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ﴾**

[صف: ۸ – ۹]

***ژباړه:*** *دوی غواړي د الله سبحانه وتعالی نور په خپلو خولو سره مړ کړي؛ خو الله سبحانه وتعالی خپل نور بشپړوي، که هر څو د کافرانو خوښه نه وي. دی هغه څوک دی چې خپل رسول صلی الله علیه وسلم یې له هدایت او حق دین سره ولېږه، څو پر ټولو دینونو یې برلاسی کړي، که هر څو د مشرکانو نه وي خوښه.*

په پای کې: موږ حزب التحرير-ولايه اردن، د اردن شريف خلک او هر هغه څوک رابولو چې د فوځ د سرتېرو او ۷ ملکي خلکو د وينو په اړه انديښمن دي، هغوی د ځينو کسانو لخوا د قومي تعصب د خپرولو په اړه خبروو او دې ته يې رابولو څو هغه کسان وغندي چې خلک دغو تعصبونو ته دعوتوي او پر اساس يې راټولوي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«مَنْ دَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ فَهُوَ مِنْ جُثَا جَهَنَّمَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى قَالَ وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى وَزَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ»**

***ژباړه:*** *هر څوک چې خلک جاهليت (عصبيت) ته رابولي، د دوزخيانو له ډلې څخه دی. اصحابو وويل: يا رسول الله صلی الله عليه وسلم حتا که روژه ونيسي او لمونځ وکړي؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: حتا که روژه ونيسي، لمونځ وکړي او د مسلمانۍ دعوه وکړي.*

هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ»**

***ژباړه:*** *(عصبيت) پرېږدئ، ځکه فاسد دی!*

همدارنگه موږ پر تاسو غږ کوو چې د ژوند صحنې ته د اسلامي نظام د بيا راوستلو لپاره را ودانگۍ، هغه نظام چې د نړۍ روزونکي د ټول بشريت لپاره خوښ کړی دی او هغه نظام چې د مسلمانانو وينې دروي او د هغوی له عزت څخه ساتنه کوي. يوازې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په طريقه راشده خلافت هغو جرمونو او فسادونو ته د پای ټکی ږدي چې د کافرو پانگوالو هېوادونو په واسطه زموږ په خاورو کې تر سره کېږي. موږ تاسو رابولو چې د هغه د بيا تاسيس لپاره کار وکړئ او پوی شئ چې ان‌شاء الله په چټکۍ سره به راشي. ځکه چې د الله سبحانه وتعالی ژمنه او د رسول الله صلی الله عليه وسلم زيری دی.

**﴿وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ وَلَـكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ﴾**

[يوسف: ۲۱]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی پر خپل کار لاس بری دی، خو ډېری خلک نه پوهېږي.*

**د حزب التحرير-ولايه اردن مطبوعاتي دفتر**

د ذوالحجې لومړی ۱۴۳۹

د اګست ۱۲مه ۲۰۱۸

د صدور ګڼه: ۳۹/۳۸